DTM
AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

د پایلي لنډیز . لسم پړاو
جنوري - جون ۲۰۲۰



د ۲۰۱۶ کال راهیښې په بادغیس ولایت کې د دې کلي پخوانیو اوسېدونکو په شان چې کورونه یې د شدیدو بارانونو او سیلاب له امله وران شوي ۱،۵۴۱،۵۲۴ نور افغانانو خپل کورونه، ملکیتونه او معیشت د طبیعي آفتونو له امله له لاسه ورکړي او دې ته اړ شوي چې په بېځایتوب کې ژوند وکړي. © IOM ۲۰۲۰

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم داسې یو سیستم دی چې د خلکو د بېځایه کېدنې او تحرک له بهیر څخه تعقیب او څارنه کوي. دا سیستم په سیستماتیک ډول د معلوماتو راټولولو، پراسس کولو او خپرولو لپاره جوړ شوی ترڅو وکولای شي د تحرکاتو او په سیمه او یا لاره کې د بېځایه شویو خلکو هغه اړتیاوو په هکله چې د بدلون په حال کې دي ښه پوهاوی منځ ته راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره .www.displacement iom.int/afghanistan څخه کتنه وکړئ.

د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم په افغانستان کې د تحرک د ارزونې بنسټیزې وسیلې کاروي ترڅو د تحرکاتو څخه څارنه وشي او د نفوس په هکله اټکلونه، د بېځایه شویو موقعیتونه او جغرافیه وي وېش څرګند شي. سربېره پر دې DTM د بېځایه کېدو مهال، علت، اصلی سیمې، لومړني ډیموګرافیکي معلومات، زیانمنتیاوې او د اړتیاوو د لومړیتوبونو څخه څارنه کوي. معلومات د کلیو په کچه د ډله ایزو بحثونو، مخامخ کتنو او کلیدي معلوماتو ورکوونکو سره د مرکې له لارې راټولېږي.

DTM پروګرام، د کډوالۍ نړیوال سازمان او ملګري سازمانونو ته دا پیاوړتیا ورکوي چې سرچینې په اعظمي توګه لوړې کړي او لومړیتوبونه وټاکي ترڅو د شواهدو پر بنسټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسو بشردوستانه مرستو پروګرامونه وړاندې کړي او د ټولنې د بیا یوځای کېدنې، ثبات او پراختیا څخه داډ ترلاسه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اساسي جمعیتونو کټګوریو موقعیت، نفوس او څو سکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

کورني بېځایه شوي په لاندې دریو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. کورني بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شویو کلیو څخه هغه افغانان چې د کورني بېځایه شویو په توګه یې خپلې سیمې پرېښې ترڅو د افغانستان دننه په یوې بلې سیمې کې ژوند وکړي

۴. راغلي کورني بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه کورني بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان

هغه افغانان چې د ارزول شویو کلیو څخه پخوا د کورني بېځایه شویو په توګه تللي ول او اوسمهال خپلو کورونو ته بېرته ستانه شوي دي

۵ د موخې وړ جمعیتونو لپاره د نفوس د کچې معلومات د هغوی د بېځایه کېدنې پر مهال د دې زماني جوړښت پر بنسټ راټولېږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ • ۲۰۱۶ • ۲۰۱۷ • ۲۰۱۸ • ۲۰۱۹ • ۲۰۲۰

## لنډه کتنه

**۳۴** ولایتونه وارزول شول

**۳۹۷** ولسوالۍ وارزول شوې (۷ ولسوالۍ د لاسرسۍ وړ نه وې او ۲ ولسوالیو کې کورني بېځایه شویو او راستنېدونکو شتون نه درلوده)

**۱۲,۳۳۵** کلي وارزول شول

**۶۲،۱۹۴**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۳،۸۸۱،۹۰۳**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۹]

**۴،۷۶۰،۴۷۸**
کورني بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۵،۴۸۰،۹۹۶**
پخواني کورني بېځایه شوي اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۲،۷۹۶،۴۳۲**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۲۰]

**۳۶۰،۸۵۵**
کسان اروپايي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له جملې ۱۳٪)

**۴۰۱،۸۲۳**
راستنیدونکي او کورني بېځایه شوي (۵٪) په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۲**
۶۳٪ کورني بېځایه شوي یوازې په ۸ ولایاتو کې اوسېږي: بادغیس، بلخ، هلمند، هرات، جوزجان، کابل، کندهار او ننګرهار

**۲ څخه ۱**
۴۹٪ راستنیدونکي په ۸ ولایتونو کې ژوند کوي: بلخ، فاریاب، هرات، جوزجان، کابل، کندز، لوګر او ننګرهار

**۳ څخه ۱**
کس په هرات، کنړ، لوګر او ننګرهار کې او له ۴۰٪ څخه زیات کسان په بادغیس، جوزجان، نیمروز او زابل کې یا کورني بېځایه شوي او یا هم راستنېدونکي دي

**۵ څخه ۲**
کسان د بادغیس، اورزګان، او وردک او له ۵۰٪ کسانو له فره او زابل ولایتونو څخه د کورني بېځایه شویو په توګه له خپلو اصلي سیمو څخه تللي

**۲ څخه ۱**
کس په بغلان، هلمند، کندز، تخار او زابل کې پخواني کورنی بېځایه شوي ول چې اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولایاتو په کچه لنډه کتنه

| ولایت | د ورستۍ ارزونې نېټه | مجموعي نفوس* | ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي+ کورنۍ بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي | د نفوس سلنه | کورنۍ بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې | د نفوس سلنه | راغلي کورنۍ بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي کورنۍ بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اورزګان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۲۰,۹۶۴ | ۸۰,۰۶۴ | ٪۱۶ | ۹۴۰ | ٪۰ | ۱۶۳,۱۹۷ | ٪۳۹ | ۷۹,۱۲۴ | ٪۱۶ | ۱۱۰,۷۸۳ | ٪۲۶ | ۱,۷۰۶ | ٪۰ |
| بادغیس | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵۳۰,۵۷۴ | ۴۳۹,۴۴۷ | ٪۴۵ | ۱۲۴,۹۱۱ | ٪۱۳ | ۲۳۰,۰۸۶ | ٪۴۳ | ۳۱۴,۵۳۶ | ٪۳۲ | ۱۱۶,۷۷۹ | ٪۲۲ | ۱۲۸,۴۷۳ | ٪۲۴ |
| بامیان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۷۸,۴۲۴ | ۱۰۰,۴۶۷ | ٪۱۷ | ۴۸,۳۲۷ | ٪۸ | ۱۱۹,۹۱۵ | ٪۲۵ | ۵۲,۱۴۰ | ٪۹ | ۸۱,۱۷۹ | ٪۱۷ | ۴۵,۳۳۷ | ٪۹ |
| بدخشان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۰۱۷,۴۹۹ | ۱۶۸,۳۴۷ | ٪۱۴ | ۹۲,۴۲۴ | ٪۸ | ۱۷۵,۴۹۵ | ٪۱۷ | ۷۵,۹۲۳ | ٪۶ | ۲۰۰,۹۰۲ | ٪۲۰ | ۱۱۳,۳۷۵ | ٪۱۱ |
| بغلان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۹۷۷,۲۹۷ | ۲۰۳,۹۷۱ | ٪۱۷ | ۱۵۶,۷۲۵ | ٪۱۳ | ۲۰۹,۴۶۸ | ٪۲۱ | ۴۷,۲۴۶ | ٪۴ | ۴۶۶,۴۳۰ | ٪۴۸ | ۱۲۲,۰۷۸ | ٪۱۲ |
| بلخ | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۴۴۲,۸۴۷ | ۴۶۷,۵۳۰ | ٪۲۴ | ۱۷۰,۹۵۳ | ٪۹ | ۱۶۹,۷۶۱ | ٪۱۲ | ۲۹۶,۵۷۷ | ٪۱۶ | ۵۵,۰۲۹ | ٪۴ | ۱۷۸,۶۸۴ | ٪۱۲ |
| پروان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷۱۱,۶۲۱ | ۱۰۲,۸۲۷ | ٪۱۳ | ۶۳,۱۸۱ | ٪۸ | ۹۳,۶۹۵ | ٪۱۳ | ۳۹,۶۴۶ | ٪۵ | ۶۴,۲۶۸ | ٪۹ | ۶۴,۱۷۸ | ٪۹ |
| پکتیا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵۹۰,۶۶۸ | ۱۰۱,۵۲۷ | ٪۱۵ | ۶۹,۱۷۷ | ٪۱۰ | ۶۵,۶۴۲ | ٪۱۱ | ۳۲,۳۵۰ | ٪۵ | ۶۸,۰۲۳ | ٪۱۲ | ۲۵,۴۱۹ | ٪۴ |
| پکتیکا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷۴۸,۹۱۰ | ۱۰۲,۷۶۹ | ٪۱۲ | ۵۲,۸۵۰ | ٪۶ | ۳۶,۵۹۸ | ٪۵ | ۴۹,۹۱۹ | ٪۶ | ۲۴,۹۸۷ | ٪۳ | ۳۸,۵۸۵ | ٪۵ |
| پنجشیر | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۶۴,۱۱۵ | ۵,۵۳۷ | ٪۳ | ۱,۷۱۵ | ٪۱ | ۵,۵۷۳ | ٪۳ | ۳,۸۲۲ | ٪۲ | ۴,۴۶۷ | ٪۳ | ۲,۱۹۵ | ٪۱ |
| تخار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۰۵۳,۸۵۲ | ۲۱۷,۸۲۹ | ٪۱۷ | ۱۴۹,۴۷۱ | ٪۱۲ | ۱۰۶,۷۶۷ | ٪۱۰ | ۶۸,۳۵۸ | ٪۵ | ۵۱۳,۵۶۳ | ٪۴۹ | ۱۸۳,۹۲۸ | ٪۱۷ |
| جوزجان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵۷۹,۸۳۳ | ۴۱۷,۸۲۸ | ٪۴۲ | ۱۸۰,۵۳۶ | ٪۱۸ | ۱۶۴,۹۵۴ | ٪۲۸ | ۲۳۷,۲۹۲ | ٪۲۴ | ۱۶۸,۸۷۶ | ٪۲۹ | ۱۷۸,۸۹۸ | ٪۳۱ |
| خوست | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۶۱۴,۵۸۴ | ۱۵۲,۵۰۲ | ٪۲۰ | ۸۱,۰۲۶ | ٪۱۱ | ۳۸,۵۲۹ | ٪۶ | ۷۱,۴۷۶ | ٪۹ | ۷,۱۶۵ | ٪۱ | ۲۹,۱۷۸ | ٪۵ |
| دایکندي | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۹۸,۸۴۰ | ۴۵,۹۴۱ | ٪۸ | ۳۶,۴۲۹ | ٪۷ | ۴۲,۵۹۵ | ٪۹ | ۹,۵۱۲ | ٪۲ | ۲۱,۹۰۰ | ٪۴ | ۶۷,۲۵۱ | ٪۱۳ |
| زابل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۳۷۱,۰۴۳ | ۲۹۹,۶۲۴ | ٪۴۵ | ۱۲۵,۳۷۵ | ٪۱۹ | ۱۹۳,۲۷۸ | ٪۵۲ | ۱۷۴,۲۴۹ | ٪۲۶ | ۱۷۲,۲۵۷ | ٪۴۶ | ۱۱۴,۹۱۰ | ٪۳۱ |
| سرپل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵۹۹,۱۳۷ | ۱۹۹,۶۹۴ | ٪۲۵ | ۱۰۴,۴۹۳ | ٪۱۳ | ۱۰۷,۱۹۴ | ٪۱۸ | ۹۵,۲۰۱ | ٪۱۲ | ۱۳۰,۶۸۲ | ٪۲۲ | ۱۰۷,۷۴۷ | ٪۱۸ |
| سمنګان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۱۵,۳۴۳ | ۷۵,۸۰۰ | ٪۱۵ | ۳۶,۹۸۴ | ٪۸ | ۹۶,۴۱۶ | ٪۲۳ | ۳۸,۸۱۶ | ٪۸ | ۶۵,۸۴۸ | ٪۱۶ | ۳۶,۴۹۵ | ٪۹ |
| غزني | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۳۱۵,۰۴۱ | ۲۲۰,۳۶۶ | ٪۱۴ | ۵۷,۱۲۶ | ٪۴ | ۱۱۳,۸۲۶ | ٪۹ | ۱۶۳,۲۴۰ | ٪۱۱ | ۱۲۰,۷۲۱ | ٪۹ | ۵۵,۰۸۱ | ٪۴ |
| غور | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۷۳۸,۲۲۴ | ۱۱۹,۰۷۸ | ٪۱۴ | ۵۰,۱۴۲ | ٪۶ | ۶۷,۰۷۸ | ٪۹ | ۶۸,۹۳۶ | ٪۸ | ۴۹,۳۴۵ | ٪۷ | ۴۸,۰۹۱ | ٪۷ |
| فاریاب | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۰۶۹,۵۴۰ | ۳۱۸,۵۴۹ | ٪۲۳ | ۲۴۷,۶۷۹ | ٪۱۸ | ۲۶۱,۲۷۶ | ٪۲۴ | ۷۰,۸۷۰ | ٪۵ | ۱۰۳,۸۱۳ | ٪۱۰ | ۳۲۳,۵۸۱ | ٪۳۰ |
| فراه | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۵۴۳,۲۳۷ | ۲۱۱,۶۶۳ | ٪۲۸ | ۸۱,۴۹۹ | ٪۱۱ | ۲۶۵,۴۹۶ | ٪۴۹ | ۱۳۰,۱۶۴ | ٪۱۷ | ۱۳۴,۵۷۱ | ٪۲۵ | ۹۳,۱۱۶ | ٪۱۷ |
| کابل | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴,۸۶۰,۸۸۰ | ۵۱۲,۵۸۷ | ٪۱۰ | ۲۴۴,۹۵۴ | ٪۵ | ۸۲,۴۰۸ | ٪۲ | ۲۶۷,۶۳۳ | ٪۵ | ۶۲,۰۳۴ | ٪۱ | ۸۲,۰۱۵ | ٪۲ |
| کاپیسا | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۷۱,۵۷۴ | ۱۰۵,۵۶۷ | ٪۱۸ | ۴۳,۰۷۸ | ٪۷ | ۸۹,۵۳۳ | ٪۱۹ | ۶۲,۴۸۹ | ٪۱۱ | ۴۷,۶۸۵ | ٪۱۰ | ۵۰,۹۰۵ | ٪۱۱ |
| کندز | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۰۹۱,۱۱۶ | ۲۹۲,۳۵۹ | ٪۲۱ | ۲۰۳,۸۴۲ | ٪۱۵ | ۱۴۶,۳۷۶ | ٪۱۳ | ۸۸,۵۱۷ | ٪۶ | ۱,۲۷۰,۸۷۵ | ٪۱۱۶ | ۱۵۴,۶۳۲ | ٪۱۴ |
| کندهار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۳۳۷,۱۸۳ | ۳۳۹,۵۱۹ | ٪۲۰ | ۸۸,۱۲۳ | ٪۵ | ۳۲۱,۰۴۳ | ٪۲۴ | ۲۵۱,۳۹۶ | ٪۱۵ | ۱۲۳,۲۱۸ | ٪۹ | ۲۴,۲۱۸ | ٪۲ |
| کنړ | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۸۲,۱۱۵ | ۲۴۴,۷۰۳ | ٪۳۴ | ۱۱۳,۷۹۰ | ٪۱۶ | ۱۴۶,۸۳۵ | ٪۳۰ | ۱۳۰,۹۱۳ | ٪۱۸ | ۵۲,۹۲۶ | ٪۱۱ | ۱۴,۷۸۲ | ٪۳ |
| لغمان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۷۶,۵۳۷ | ۱۷۴,۶۰۲ | ٪۲۷ | ۱۱۵,۵۹۵ | ٪۱۸ | ۱۰۷,۰۶۳ | ٪۲۲ | ۵۹,۰۰۷ | ٪۹ | ۱۵,۰۶۶ | ٪۳ | ۳۲,۴۷۷ | ٪۷ |
| لوګر | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۴۱۹,۳۷۷ | ۱۹۲,۰۰۳ | ٪۳۱ | ۱۶۶,۶۶۰ | ٪۲۷ | ۱۲۱,۱۵۵ | ٪۲۹ | ۲۵,۳۴۳ | ٪۴ | ۱۴,۵۴۸ | ٪۳ | ۷۲,۷۷۴ | ٪۱۷ |
| ننګرهار | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۶۳۵,۸۷۲ | ۸۲۲,۹۷۶ | ٪۳۳ | ۵۲۴,۰۹۳ | ٪۲۱ | ۳۱۹,۶۲۵ | ٪۲۰ | ۲۹۸,۸۸۳ | ٪۱۲ | ۴۲۳,۱۱۰ | ٪۲۶ | ۴۵,۶۴۳ | ٪۳ |
| نورستان | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۵۸,۲۱۱ | ۵,۰۶۳ | ٪۳ | ۱۱۴ | ٪۰ | ۱۷,۸۳۷ | ٪۱۱ | ۴,۹۴۹ | ٪۳ | ۷۷ | ٪۰ | ۸۸ | ٪۰ |
| نیمروز | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱۷۶,۸۹۸ | ۱۲۳,۴۶۷ | ٪۴۱ | ۴۵,۷۲۷ | ٪۱۵ | ۱۵,۹۸۶ | ٪۹ | ۷۷,۷۴۰ | ٪۲۶ | ۲۱,۳۰۳ | ٪۱۲ | ۲۹,۳۰۳ | ٪۱۷ |
| هرات | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۲,۰۵۰,۵۱۴ | ۱,۰۷۴,۴۷۶ | ٪۳۴ | ۱۷۲,۹۷۲ | ٪۶ | ۲۲۹,۲۶۱ | ٪۱۱ | ۹۰۱,۵۰۴ | ٪۲۹ | ۱۰۲,۸۳۸ | ٪۵ | ۱۹۴,۴۹۵ | ٪۹ |
| هلمند | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۱,۳۹۵,۵۱۴ | ۵۵۵,۷۹۴ | ٪۲۸ | ۱۱۰,۹۹۱ | ٪۶ | ۳۷۸,۰۸۶ | ٪۲۷ | ۴۴۴,۸۰۳ | ٪۲۳ | ۶۲۸,۷۹۷ | ٪۴۵ | ۶۰,۷۳۲ | ٪۴ |
| وردک | ۲۰۲۰/۰۶/۳۰ | ۶۳۷,۶۳۴ | ۱۴۷,۹۰۵ | ٪۱۹ | ۱۲۰,۰۰۱ | ٪۱۵ | ۲۴۵,۱۷۶ | ٪۳۸ | ۲۷,۹۰۴ | ٪۴ | ۳۶,۹۳۱ | ٪۶ | ۷۵,۴۶۲ | ٪۱۲ |
| مجموعه | | ۳۰,۰۷۵,۰۱۸ | ۸,۶۴۲,۳۸۱ | ٪۲۲ | ۳,۸۸۱,۹۰۳ | ٪۱۰ | ۴,۹۴۷,۲۲۳ | ٪۱۶ | ۴,۷۶۰,۴۷۸ | ٪۱۲ | ۵,۴۸۰,۹۹۶ | ٪۱۸ | ۲,۷۹۵,۸۳۲ | ٪۹ |

** د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل     سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰     د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



د زده کړې لوړې بیه سربېره د ښوونځیو ودانیو نشتون د زده کړې پر وړاندې یو اړین خنډ بلل کېږي. ډېرې ټولنې د ښوونځیو ودانیو او تسهیلاتو ته لاسرسی نلري لکه دا ښوونځی د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې چې ماشومان په خیمو کې د زده کړې اړینو تسهیلاتو، خدماتو او موادو پرته زده کړه کوي. © IOM ۲۰۲۰

## تګلار

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله وي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بياځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه اړتياوې شاملېږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کليدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کارکوونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټيليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګړنديتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجسټر کوونکي له لوري تر ې کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

څکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنسټيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.



لکه څنګه چې ښځينه کارکوونکي په ډله ايزو بحثونو کې زيات شمېر ښځينه ګډونوال جذبوي د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم هڅه کوي چې ښځينه کارکوونکي لا زيات استخدام کړي ترڅو د جنسيت پر بنسټ متوازن معلومات راټول کړي. © IOM ۲۰۲۰

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د ځو سکټوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جنډر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. د کليدي معلوماتو ورکوونکو له جملې څخه يوازې ۲٪ يې ښځې دي. که څه هم دا لږ ده خو بيا هم د DTM د لومړي پړاو ارزونې په پرتله پرمختګ شيي چې د ۲۰۱۷ کال په مارچ کې بشپړ شوی وه او ۰.۱٪ ښځو ترې استازيتوب کاوه.

**۶۲،۱۹۴**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۴،۷۱۴**
کليدي معلومات ورکوونکي يا راستنيدونکي دي او يا هم کورني بېځايه شوي (۸٪)

**۱،۳۶۲**
ښځينه کليدي معلومات ورکوونکي (۲٪)

**۱۹،۷۱۹**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۳۲٪)


**۶۰،۸۳۲**
نارينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹۸٪)

**۱۲،۹۴۰**
ځو سکټوريز او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۲۱٪)

**۵**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۲۳،۲۶۹**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۳۷٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | عمومی



# بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنیو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو میاشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شویو سیمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بیا UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو ته یې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او یا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چاراوکو سره ثبت ول او که نه).

د راستنېدونکو شمېر له ۲۰۱۶ کال څخه را په دې خوا د هر کال په ترځ کې په لوړه کچه راټیټ شوی خو اروپایي هېوادونو څخه د راستنېدو کچه ډېره لږه زیاته شوې. ننګرهار ولایت په ملي کچه له ۱۴٪ راستنېدونکو څخه کوربه توب کوي.

**۳،۸۸۱،۹۰۳** بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۲،۰۹۷،۸۲۳** پاکستان څخه راستنېدونکي (۵۴٪)


**۲،۶۰۲،۰۸۹** له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۶۲٪)


**۱،۵۵۵،۹۷۴** ایران څخه راستنېدونکي (۴۰٪)


**۱،۲۵۱،۷۰۸** له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۳۲٪)


**۲۲۸،۱۰۶** غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۶٪)



# راغلي کورني بېځايه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنۍ يا وسله والو جګړو له امله يا تاوتريخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب انديښنې او د طبيعي پيښو يا د انسان په لاس جوړې شويو پيښو څخه د خونديتوب په موخه خپلو سيمو څخه بېځايه شوي دي او ارزول شويو/ کورېه تولنو ته تللي او ژوند کوي.

زمونږ د کليدي معلومات ورکوونکو په وينا، له ۲۰۱۶ تر ۲۰۱۸ کلونو پورې د هر کال په ترڅ کې له ۱ ميليون څخه زيات افغانان د جګړو او طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي دي. که څه هم د ۲۰۱۸ کال په ترڅ کې د سختو جګړو له امله د ملکي وګړو په شمېر کې ۴۶٪ زياتوالی راغلی، د کورني بېځايه شويو ټولټال شمير د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ۲۰۱۸ کال کې ډېر لږ زياتوالی راغلی خو په ۲۰۱۹ کال کې ۳۹٪ کموالی شوی. هرات ولايت تر ټولو ډېر زيانمن دی ځکه چې د هېواد په کچه له ۱۹٪ کورني بېځايه شويو څخه کوربه توب کوي.

**۴،۷۶۰،۴۷۸**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي


**۳،۵۴۶،۸۵۸**
د کړکېچ يا جګړو له امله بېځايه شوي (۷۵٪)


**۹۰۱،۵۰۴**
په هرات ولايت کې کورني بېځايه شوي کسان چې دا تر ټولو زيات شمېر دی


**۱،۲۱۳،۶۲۰**
د طبيعي پيښو له امله بېځايه شوي (۲۵٪)


**۲۵۶،۸۱۴**
کورني بېځايه شوی په غير رسمي سيمو کې مېشت دی (۵٪)


**۳ څخه ۲**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي (۶۷٪)







# تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځايه شوي)




## تولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + کورني بېځايه شوي) د ولايت پر بنسټ لنډيز

| ولايت | راستنېدونکي | کورني بېځايه شوي | تولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| هرات | ۱۷۲,۹۷۲ | ۹۰۱,۵۰۴ | ۱,۰۷۴,۴۷۶ |
| ننګرهار | ۵۲۴,۰۹۳ | ۲۹۸,۸۸۳ | ۸۲۲,۹۷۶ |
| هلمند | ۱۱۰,۹۹۱ | ۴۴۴,۸۰۳ | ۵۵۵,۷۹۴ |
| کابل | ۲۴۴,۹۵۴ | ۲۶۷,۶۳۳ | ۵۱۲,۵۸۷ |
| بلخ | ۱۷۰,۹۵۳ | ۲۹۶,۵۷۷ | ۴۶۷,۵۳۰ |
| بادغيس | ۱۲۴,۹۱۱ | ۳۱۴,۵۳۶ | ۴۳۹,۴۴۷ |
| جوزجان | ۱۸۰,۵۳۶ | ۲۳۷,۲۹۲ | ۴۱۷,۸۲۸ |
| کندهار | ۸۸,۱۲۳ | ۲۵۱,۳۹۶ | ۳۳۹,۵۱۹ |
| فارياب | ۲۴۷,۶۷۹ | ۷۰,۸۷۰ | ۳۱۸,۵۴۹ |
| زابل | ۱۲۵,۳۷۵ | ۱۷۴,۲۴۹ | ۲۹۹,۶۲۴ |
| کندز | ۲۰۳,۸۴۲ | ۸۸,۵۱۷ | ۲۹۲,۳۵۹ |
| کنړ | ۱۱۳,۷۹۰ | ۱۳۰,۹۱۳ | ۲۴۴,۷۰۳ |
| غزني | ۵۷,۱۲۶ | ۱۶۳,۲۴۰ | ۲۲۰,۳۶۶ |
| تخار | ۱۴۹,۴۷۱ | ۶۸,۳۵۸ | ۲۱۷,۸۲۹ |
| فراه | ۸۱,۴۹۹ | ۱۳۰,۱۶۴ | ۲۱۱,۶۶۳ |
| بغلان | ۱۵۶,۷۲۵ | ۴۷,۲۴۶ | ۲۰۳,۹۷۱ |
| سرپل | ۱۰۴,۴۹۳ | ۹۵,۲۰۱ | ۱۹۹,۶۹۴ |
| لوګر | ۱۶۶,۶۶۰ | ۲۵,۳۴۳ | ۱۹۲,۰۰۳ |
| لغمان | ۱۱۵,۵۹۵ | ۵۹,۰۰۷ | ۱۷۴,۶۰۲ |
| بدخشان | ۹۲,۴۲۴ | ۷۵,۹۲۳ | ۱۶۸,۳۴۷ |
| خوست | ۸۱,۰۲۶ | ۷۱,۴۷۶ | ۱۵۲,۵۰۲ |
| وردک | ۱۲۰,۰۰۱ | ۲۷,۹۰۴ | ۱۴۷,۹۰۵ |
| نيمروز | ۴۵,۷۲۷ | ۷۷,۷۴۰ | ۱۲۳,۴۶۷ |
| غور | ۵۰,۱۴۲ | ۶۸,۹۳۶ | ۱۱۹,۰۷۸ |
| کاپيسا | ۴۳,۰۷۸ | ۶۲,۴۸۹ | ۱۰۵,۵۶۷ |
| پروان | ۶۳,۱۸۱ | ۳۹,۶۴۶ | ۱۰۲,۸۲۷ |
| پکتيکا | ۵۲,۸۵۰ | ۴۹,۹۱۹ | ۱۰۲,۷۶۹ |
| پکتيا | ۶۹,۱۷۷ | ۳۲,۳۵۰ | ۱۰۱,۵۲۷ |
| باميان | ۴۸,۳۲۷ | ۵۲,۱۴۰ | ۱۰۰,۴۶۷ |
| اورزګان | ۹۴۰ | ۷۹,۱۲۴ | ۸۰,۰۶۴ |
| سمنګان | ۳۶,۹۸۴ | ۳۸,۸۱۶ | ۷۵,۸۰۰ |
| دايکندی | ۳۶,۴۲۹ | ۹,۵۱۲ | ۴۵,۹۴۱ |
| پنجشير | ۱,۷۱۵ | ۳,۸۲۲ | ۵,۵۳۷ |
| نورستان | ۱۱۴ | ۴,۹۴۹ | ۵,۰۶۳ |
| مجموعه | ۳,۸۸۱,۹۰۳ | ۴,۷۶۰,۴۷۸ | ۸,۶۴۲,۳۸۱ |

په لاندې جدول کې ۲۵ ولسوالۍ ښودل شوي چې تر ټولو زيات راستنېدونکي او کورني بېځايه شوي (ټولټال راغلي کسان) لري. دا سيمې د ټولنې د بې ثباتۍ په برابر کې اغېزمنې او حساسې دي چې د راستنيدونکو او کورني بېځايه شويو لوړې کچې راتګ سره دا بې ثباتي رامنځ ته شوي. له دې امله اساسي خدمتونو او معيشت ته لاسرسی محدود شوی، ځای پر ځای کېدل د خطر سره مخ کېږي او د بياځلي بېځايه کېدنې لامل ګرځي. هرات ولايت د هيواد په کچه تر ټولو زياتو کورني بېځايه شويو شخه کوربه توب کوي چې د جګړو او طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي (۹۰۱،۵۰۴). له دې شمېر څخه ۶۱٪ کسان د جګړو له امله بېځايه شوي او ۳۹٪ د طبيعي پېښو له امله بېځايه شوي. د هرات ولايت دننه تر ټولو زيات کورني بېځايه شوي (۲۹۷،۸۴۵) په خپله هرات ولسوالۍ کې اوسېږي. ننګرهار ولايت تر ټولو زيات راستنېدونکو (۵۲۴،۰۹۳) څخه کوربه توب کوي چې ډېری يې (۱۲۷،۹۲۳) په بهسود ولسوالۍ کې اوسېږي.

## ۲۵ لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زيات راستنېدونکي + داخلی بېځايه شوي لري

| رده بندی | ولسوالۍ | ولايت | راستنېدونکي | کورني بېځايه شوي | ټولټال وارد شوي |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | هرات | هرات | ۹۶,۹۱۷ | ۲۹۷,۸۴۵ | ۳۹۴,۷۶۲ |
| ۲ | لشکرگاه | هلمند | ۲۴,۴۴۶ | ۲۵۸,۴۱۱ | ۲۸۲,۸۵۷ |
| ۳ | قلعه نو | بادغيس | ۳۰,۰۹۵ | ۲۳۲,۹۷۲ | ۲۶۳,۰۶۷ |
| ۴ | کابل | کابل | ۸۸,۰۶۴ | ۱۳۵,۹۱۰ | ۲۲۳,۹۷۴ |
| ۵ | بهسود | ننګرهار | ۱۲۷,۹۲۳ | ۹۱,۹۶۲ | ۲۱۹,۸۸۵ |
| ۶ | شبرغان | جوزجان | ۷۴,۵۰۹ | ۱۴۰,۸۳۸ | ۲۱۵,۳۴۷ |
| ۷ | قلات | زابل | ۳۴,۶۶۸ | ۱۱۵,۷۵۳ | ۱۵۰,۴۲۱ |
| ۸ | کرخ | هرات | ۸,۰۹۰ | ۱۲۷,۰۹۱ | ۱۳۵,۱۸۱ |
| ۹ | غزني | غزني | ۱۰,۲۷۸ | ۱۲۴,۱۰۷ | ۱۳۴,۳۸۵ |
| ۱۰ | سرپل | سرپل | ۴۹,۹۱۸ | ۷۸,۲۲۲ | ۱۲۸,۱۴۰ |
| ۱۱ | دهدادي | بلخ | ۹,۱۵۶ | ۱۱۶,۳۳۵ | ۱۲۵,۴۹۱ |
| ۱۲ | کندهار | کندهار | ۲۵,۲۳۰ | ۹۳,۰۱۶ | ۱۱۸,۲۴۶ |
| ۱۳ | گذره | هرات | ۶,۵۱۵ | ۹۶,۳۱۲ | ۱۰۲,۸۲۷ |
| ۱۴ | مزار شريف | بلخ | ۲۱,۵۶۴ | ۷۶,۳۰۳ | ۹۷,۸۶۷ |
| ۱۵ | سرخرود | ننګرهار | ۵۰,۵۵۰ | ۴۱,۳۴۲ | ۹۱,۸۹۲ |
| ۱۶ | زرنج | نيمروز | ۲۹,۵۱۷ | ۵۴,۳۴۹ | ۸۳,۸۶۶ |
| ۱۷ | جلال آباد | ننګرهار | ۴۸,۰۴۰ | ۲۶,۶۵۳ | ۷۴,۶۹۳ |
| ۱۸ | آقچه | جوزجان | ۱۳,۷۱۹ | ۶۰,۵۵۷ | ۷۴,۲۷۶ |
| ۱۹ | نهر شاهي | بلخ | ۱۷,۰۵۰ | ۵۶,۹۰۵ | ۷۳,۹۵۵ |
| ۲۰ | فراه | فراه | ۱۷,۴۸۴ | ۵۵,۹۹۰ | ۷۳,۴۷۴ |
| ۲۱ | انجيل | هرات | ۶,۳۳۲ | ۶۶,۲۳۱ | ۷۲,۵۶۳ |
| ۲۲ | بالا مرغاب | بادغيس | ۲۸,۳۷۳ | ۴۳,۶۴۲ | ۷۲,۰۱۵ |
| ۲۳ | شيرين تګاب | فارياب | ۶۸,۶۱۳ | ۳,۰۴۶ | ۷۱,۶۵۹ |
| ۲۴ | چپرهار | ننګرهار | ۵۳,۰۶۷ | ۱۸,۳۴۰ | ۷۱,۴۰۷ |
| ۲۵ | کندز | کندز | ۴۴,۳۵۲ | ۲۴,۹۸۶ | ۶۹,۳۳۸ |
| | | مجموعه | ۹۸۴،۴۷۰ | ۲،۴۳۷،۱۱۸ | ۳،۴۲۱،۵۸۸ |

## کورني بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبيعي پېښو يا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۴,۹۴۷,۲۲۳**
کورني بېځایه شوي چې خپلې سیمې یې پرېښې

**۳ څخه ۲**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي (۶۸٪)


**۳,۴۰۵,۶۹۹**
د کړکیچ یا جګړو له امله بېځایه شوي (۶۹٪)

**۱,۵۴۱,۵۲۴**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي (۳۱٪)

کورني بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښې | کلنی بهیر




د ولایت پر بنسټ کورني بېځایه شوي کسان چې خپلې اصلی سیمې یې پرېښې | کلنی بهیر




## راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان

راستانه شوي کورني بېځایه شوي هغه افغانان دي چې خپلو سیمو ته چې ارزول شوې سیمې دي او پخوا یې پرېښې وې بېرته ستانه شوي دي. دوی پخوا له دې سیمې څخه تللي ول ترڅو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقونو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړ شویو پېښو له اغېزو څخه خوندي ووسي.


**۵,۴۸۰,۹۹۶**
راستانه شوي کورني بېځایه شوي

**۸۵٪ څخه زیات**
کورني بېځایه شوي له لوګر، لغمان او وردګ ولایتونو څخه خپلو اصلي سیمو ته نه دي ستانه شوي


**۵ څخه ۴**
د عین ولایت له نورو سیمو څخه راستانه شوي (۸۲٪)

**۴ څخه ۱**
۲۳٪ راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان کندز ولایت ته تللي

راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر




د ولایت پر بنسټ راستانه شوي کورني بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر



# بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې لـه یوې ارزول شـوې سـیمې څخه د هـر دلیل، عامل او یا مـودې لپاره له هـېواد څخه بهـر تلـلي او یـا کډوال شـوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښـتونکي، بېځایه شـوي کډوال او هغه کسـان شـامليږي چې افغانسـتان يې د اقتصادي سـتونزو له امله پرېښـی وي.

د ۲۰۱۵ کال راهیسـې د کډوالو شـمیر په دوامداره توګه راټيټ شـوی چې شـايي اروپايي هېوادونو څخـه د راسـتنېدلو، د اقتصادی فرصتونـو کموالی او په ایران او پاکسـتان کې د خونديتوب کموالی پـې لاملونـه وي. پـه ۲۰۲۰ کال کـې بهرنیو هېوادونو ته د کډوالـۍ شـمېر کې د پام وړ ټیټ والی لیدل کېـږي چې پـه ډېـر احتمـال سره يې لامـل کوویـډ-۱۹ دی. د کلیـدي معلومـاتو ورکوونکو پـه وینا د ۲۰۱۲ کال راهیسـې ۳۲۳،۵۸۱ افغانـان لـه فاریـاب ولایـت څخه بهرنیو هېوادونو تـه تللي دي چې پـه ډېـر احتمـال سره دا کار د اوږد مهالـه جګړې له امله شـوی چـې د پرمختګ مخه يې نیولې او د معیشـت له لاسه ورکولو او د فقـر لامل ګرځېدلی.


**۲,۷۹۶,۴۳۲**
د هېواد څخه بهر تللي دي

**۳۶۰,۸۵۵**
اروپايي هېوادونو ته تللي دي (۱۳٪)


**۱,۷۶۹,۰۵۶**
ایران ته تللي دي (۶۳٪)

**۵۷۸,۸۹۰**
پاکستان ته تللي دي (۲۱٪)


بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر





ترکیه او اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر





ایران ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر





پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر




د ولایت پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنۍ بهیر




د هېواد پر بنسټ بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سیمه | عمومي



## څو سکټوریزې اړتیاوې

لکه دا کورني بېځایه شوي چې په بلخ ولایت کې دي، ۴۰۱،۸۲۳ کورني بېځایه شوي او راستنېدونکي په غیر رسمي سیمو کې په خیمو کې او خراب ژوندانه وضعیت کې اوسېږي. © IOM ۲۰۲۰




د خوندي بیت الخلأ نشتون چې د فاضلاب خوندي سیستم ولري د عامې روغتیا یو اړین ګواښ بلل کېږي. په آزاده فضا کې رفع حاجت کول او یا داسې کنارابونه چې فاضلاب یې آزاده فضا کې ذخیره شي، لکه دا کلی چې په هلمند ولایت کې دی، کولای شي د ساري ناروغیو د خپرېدو لامل شي. © IOM ۲۰۲۰



لکه دا ماشومان چې په کنړ ولایت کې دي، ماشومان ډېرۍ وخت د اوږدو لارو مزل کوي ترڅو خپلو کورنیو ته اوبه یوسي چې دا کار په خپله د خوندیتوب پر وړاندې د خطرونو لامل ګرځي. © IOM ۲۰۲۰



۶۱۱،۰۸۱ کورني بېځایه شوي او راستنېدونکي د څښاک خوندي اوبو ته لاسرسی نلري. لکه دا کلی په بادغیس ولایت کې د ټولنو وکړي ډېرې وخت دې ته اړ کېږي چې له سر خلاصو غیر خوندي اوبو سرچینو څخه د څښاک اوبه واخلي. © IOM ۲۰۲۰



دې ټولنې په هلمند ولایت کې د سولري برېښنا واټرپمپ نصب کړی ترڅو د اوبو لږولو موخو لپاره اوبه چمتو کړي. © IOM ۲۰۲۰



د لا ډېرو ښوونځو ودانیو د اړتیا سربېره، شته ودانې لکه دا ودانۍ چې په بداخشان ولایت کې ده ډېرې وخت د حملاتو هدف ګرځي او ټولنې د اړنیو ښوونیځو خدماتو څخه محرومېږي. © IOM ۲۰۲۰



کلینیکونه او روغتیايي کارکوونکي ډېرۍ وخت د حملاتو هدف ګرځي او ټولنې د اړینو روغتیايي خدماتو څخه محروموي چې یو مثال یې دا کلینیک د وردک ولایت په میدان ښار ولسوالۍ کې ده چې دې روان کړکېچ او جګړو له امله ویجاړ شوی دی. © IOM ۲۰۲۰



د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM) کارکوونکي لکه دا کارکوونکی په دایکندي ولایت کې د کلیو د ارزونو په ترڅ کې د کووېډ-۱۹ اړوند معلوماتو او موادو په خپرولو سره له RCCE کاري ګروپ څخه ملاتړ کوي. © IOM ۲۰۲۰



## د یوه بېځایه شوي کیسه

### د کوویډ - ۱۹ له امله راشړل شوي؛ بې کوره او بې دندې په بغلان کې

کبیر په وروستیو کې له ایران څخه راشړل شوی دی. هغه په ۲۰۱۹ کال کې د بیکارۍ او فقر له امله د کار په لټه کې ایران ته کډوال شوی وه. د کډوالۍ نړیوال سازمان، د بېځایه کېدونکو د تعقیب سیستم د تحرکاتو بنسټیزې ارزونې– جون ۲۰۲۰ پر بنسټ، کبیر د ۱۴،۵۲۳ افغانانو له ډلې څخه وه چې په ۲۰۱۹ کال کې له بغلان ولایت څخه ایران ته تللی وه. هغه په ایران کې یوې فابریکې کې دنده ترلاسه کړه او ویکولای شو چې خپلې کورنۍ ته یو ښه ژوند برابر کړي. کوویډ-۱۹ د هغوی خوږ ژوند تباه کړ..

> ”د فابریکې خاوند زه په دې متهم کړم چې کوویډ-۱۹ لرم او زما معاش یې هم رانکړ. هغه زه پولیس ته وسپارلم او له هغوی یې وغوښتل چې ما بېرته افغانستان ته وشړي.“.

پولیس کبیر شکنجه کړ او د ۲۰۲۰ کال په مې میاشت کې یې بېرته افغانستان ته وشړه. کبیر د ۵۴۰،۰۰۰ افغانانو له ډلې څخه ده چې د کوویډ-۱۹ له امله د ۲۰۲۰ کال له جنورۍ تر جون میاشتې له ایران څخه راستانه شوی دی. هغه دې ته اړ شو چې پور واخلي ترڅو تر بغلان ولایت پورې د لارې کرایه ورکړي. کله چې هغه بغلان ولایت کې خپل کلي ته ورسېده نو پوه شو چې د هغه کور د سیلابونو له امله په بشپړه توګه له منځه تللی وه. د هغه پنځه کسیزه کورنۍ اوس په یوه کوټه لرونکې پناه ځای کې اوسېږي.

> ”اوس مونږ په یوه کپه کې اوسېږو او د ژوندانه یا معیشت فرصتونه شتون نلري. زه نشم کولای خپلو دریو ماشومانو ته خواړه پیدا کړم. زه د دعا لاس پورته کوم او دا غواړم چې بشري موسسې وکولای شي ما سره مرسته وکړي او مونږ ته لا خوندي پناه ځای چمتو کړي.“

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوی خوندي ووسي.



کبیر چې په بغلان ولایت کې په یوې کپه کې ژوند کوي دعا کوي چې بشر پالونکي یا بشر دوستانه موسسات یې له کورنۍ سره مرسته وکړي او هغوی ته خوندي پناه ځای چمتو کړي.
© IOM ۲۰۲۰

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترخ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۲۰)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

#### مونږ سره په اړیکه کې شئ

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int


facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan


instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي:


د اروپا اتحادیه ګډه بودجه په وسیله تمویل شوی





د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + راغلي کورني بېځایه شوي)




بهرنیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې




د راستېدلیو کورني بېځایه شویو کسانو کوربه ولسوالۍ ګانې


د بېځايه کېدونکو د تعقيب سيستم – افغانستان
کورنۍ بېځايه شوي چې خپلې اصلي سيمې ته پرېښي | عمومي کتنه | جون ۲۰۲۰
Kilometers
0 95 190 380
1 cm = 41 km
1:4,100,000
www.displacement.iom.int/afghanistan | email: dtmafghanistan@iom.int
تاجيکستان
اوزبکستان
ترکمنستان
پاکستان
ايران (جمهوری اسلامی)
چين
جمو و کشمير
د کورنۍ بېځايه شويو اصلي ولسوالۍ کانې چې پرېښي يې دي




بهرنیو هېوادونو ته د کډوال شویو کسانو اصلي ولسوالۍ ګانې



د پخوانیو کورني بېځایه شویو د راستنېدو ولسوالۍ ګانې